# Logar Monthly

دامتیاز څښتن: دلوګر ولایت داطلاعاتواوفرهنګ ریاست

مسوول مدیر : شیرمحمدامیني «ستانکزی» ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

د سمون او ایډیټ چارې : عبدالرحمن «تسل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد«سلطاني»

د اړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸ برښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com

فیسبوک پاڼې: دلوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست/ لوګر میاشتنۍ

یادونه : دسرلیکنې پرته د نورو لیکنو مسؤلیت پرخپله لیکوال پورې اړه لري.

ډیزاین : امیني ستانکزی

چاپ ځای: آزادی مطبعه




## دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست د ۱۳۹۹ کال په لړ کې تر سره شوې چارې د وزارت له رهبرۍ مقام سره شریکې شوې




دوري ۱۱ مه: د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ولایتي رییسانو د کلني راپور وړاندې کولو غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له رهبرۍ سره ددې ریاست د ۱۳۹۹ لمریز کال لاسته راوړنې، پرمختګونه، ننګونې، ستونزې او غوښتنې شریکې کړې.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ولایتي رییسانو د کلني راپور وړاندې کولو غونډه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مطبوعاتو نړیوال تالار کې د اطلاعاتو او فرهنګ سرپرست وزیر محمد طاهیر زهیر تر مشرۍ لاندې دایره شوه، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نشراتو معین، مالي، اداري او ګرځندوی معین، د ځوانانو معین او ولایتي رییسانو پکې ګډون کړی ؤ.

د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په دې غونډه کې د تاریخي آبداتو ساتنې او ترمیم، د موزیم جوړولو، مس عینک تاریخي سیمې ته د سفرونو، په لوګر کې د فرهنګي چارو تر سره کولو، د سیمه ئیزو رسنیو او خبریالانو څخه د ملاتړ او همغږۍ، د ملي او مذهبي ورځو نمانځلو، د ځوانانو ظرفیت لوړولو او ملي پروسو کې د ځوانانو د ونډې او بیلابیلو برخو کې د ۱۳۹۹ لمریز کال د کړنو، لاسته راوړنو، پرمختګونو، ننګونو، ستونزو، غوښتنو او حل لارو په تړاو راپور وړاندې کړ.

تسل په دوه مشخصو غوښتنو کې د مس عینک لرغوني سیمې په عایداتي تاریخي سیمې بدلول او دغه راز په لوګر کې د مجهز موزیم جوړولو غوښتنې وړاندې کړې.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست وزیر محمد طاهیر زهیر په خپلو خبرو کې د ولایتي ریاستونو له لاسته راوړنو او هڅو څخه ستاینه او ملاتړ وکړ ، زیاته یې کړه چې ولایتي ریاستونو په ډېرو کمو امکاناتو ډېر اغیزمن کارونه ترسره کړي.

د ښاغلي زهیر په وینا ؛هڅه کوي د دولت د رهبرۍ پاملرنه فرهنګي او د تاریخي آبداتو ساتنې او ترمیم برخې ته لا ډېره جلب کړي ترڅو یې په مټ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فعالیتونه په ټولنه کې لا زیات محسوس او اغیز ولري.

نوموړي همدارنګه ولایتي رییسانو ته ډاډ ورکړ، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت به هڅه وکړي، ... **پاتې ۲ مخ**

## ساختمان یک مکتب دخترانه در لوگر افتتاح شد

۲۳ حمل: کار ساخت تعمیر یک مکتب دخترانه در لوگر تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

شاه پور عرب سخنگوی ریاست معارف لوگر به آژانس باخترگفت که مکتب ابتدایی دخترانۀ شیخ حسن درولسوالی برکی برک لوگر به هزینۀ پنج میلیون افغانی به کمک مالی اقرا در یک طبقه به گونۀ پخته واساسی اعمار شده است.

منبع افزود که این تعمیر دارای ده صنف درسی، دو اتاق اداری و سایر ملحقات ضروری است که در مدت یکسال اعمار شده است.این مکتب دریک وقت گنجایش ششصد شاگرد را دارا است.

گفته می شود درحال حاضر دوصد وهشتاد وشش مکتب در سطح لوگر فعال است که از جمله نودوسه مکتب فاقد تعمیر است.



گفتنی است که هفتۀ قبل تعمیر مکتب حیمد الله فاروقی در قریه یوسف ولسوالی بر کی برک لوگرنیز به کمک مالی موسسه اقرا به بهره برداری سپرده شد.

## باشندگان لوگر حمایت شانرا از معارف ...

آنان خواهان حل مشکلات، کمبود معلمان مسلکی، کتاب ومواد درسی، ساخت تعمیر مکتب ها ، زمینه سازی فرصت آموزش بهتر و ازبین بردن تهدید های امنیتی دراین ولایت شدند.

سید عزیز احمد هاشمی رییس معارف لوگر به خبرنگار آژانس باخترگفت که در جریان چند روز اخیر شاگردان برخی مکتب های دخترانه در مرکزلوگر در اثر تهدید های امنیتی مخالفان مسلح دولت از صنف هفتم الی دوازدهم به مکتب نمی روند.

وی افزود که در ولسوالی بر کی برک لوگر بیش از یکسال می شود که دختران از صنف هفتم الی دوازدهم به خاطر این تهدید ها به مکتب نمی روند. رابعه ستانکزی معاون والی لوگرگفت که تحصیل حق مردم است و دختران نیز حق تحصیل را دارند.

وی وعدۀ همکاری نمود وگفت که به زودترین فرصت چالش ها در عرصه معارف حل خواهد شد.

## اطلاعیه قومندانی مرکزجلب وجذب لوگر

**با اطلاع آنعده از جوانان ذکور و اناث ولایت لوگر و ولسوالی های مربوطه آن رسانیده میشود که اکادمی ملی نظامی پوهنتون مارشال فهیم برای سال تحصیلی (۱۴۰۰) تحت شرایط ذیل محصل می پذیرد.**

**۱ - کاندیدان باید فارغ صنف دوازدهم سال های (۱۳۸۹ – ۱۳۹۹) بوده وفیصدی نمرات صنوف سه ساله آن (۱۰ – ۱۱ – ۱۲) از ۸۰ فیصد کمتر نباشد.**

**۲ - سن کاندید بین (۱۸ الی ۲۲) سال باشد.**

**۳ - تابعیت افغانستان را داشته باشد.**

**۴ - دارای سلامتی کامل جسمی و روانی بوده سوابق جرمی نداشته، به مواد مخدر ومسکرات معتاد نباشد.**

**۵ - در امتحان کانکور اکادمی ملی نظامی که مطابق معیارهای وزارت محترم تحصیلات عالی اخذ میگردد اشتراک نموده ونمرات معیاری را حاصل نماید.**

**۶ - متعهد به ادامه خدمت طویل المدت بحیث افسر در اردوی ملی افغانستان باشد.**

**واجدین شرایط میتوانند به قومندانی جلب وجذب ولایت لوگر سر از تاریخ ۲۱ حمل ۱۴۰۰ الی ۱۰ ثور ۱۴۰۰ با اسناد تحصیلی دست داشته از قبیل ( تذکره تابعیت، اسناد تحصیلی سه ساله و چهار قطعه عکس رنگه با بگروند سفید) جهت اخذ فورم شمولیت امتحان کانکور اکادمی ملی نظامی مراجعه نمایند.**

**تسهیلات در جریان تحصیل در اکادمی ملی نظامی :**

**– دوره تحصیلی اکادمی ملی نظامی چهار سال بوده و درختم تحصیل به هر نفر از فارغین اکادمی دیپلوم لیسانس و رتبه افسری دوهم بریدمن داده میشود.**

**– درجریان تحصیل به محصلین مدت معاش مناسب نظر به سال تحصیلی، اعاشه و اباطه، قرطاسیه ومواد مورد ضرورت درسی، اجرای مراقبت های صحی فراهم میگردد.**

**– برای طبقه اناث لیلیه جداگانه با تمام تسهیلات در نظرگرفته شده است.**

**ثبت نام همه روزه جریان دارد.**

**شماره های تماس برای معلومات :** 0770700440 / 0799357900

## خانواده

## کور او کورنۍ

**ژباړه: عطا محمد «میاخېل»**

**د کور او کورنۍ مسئله یوه له مهمو موضوعاتو څخه ده، چې باید ورته ډېر پام وشي. په ټوله نړۍ کې هره کورنۍ یوه کور ته اړتیا لري، هغه کور چې ټول ورته پناه وروړي. یوه کورنۍ له پلار، مور، مېرمن او اولادونو څخه تشکیلېږي؛ کېدای شي په ډېرو ځایونو کې کورته نږدې جومات یا مدرسه نه وي، حتا د نبي کریم (ص) د بلنې (دعوت) په لومړیو کې یوازې مسجد الحرام ؤ، چې هغه هم د قریشو د مشرکینو په ولکه کې ؤ، چې شاوخوا یې ۳۶۰ بتان اېښودل شوي وو، په هر حال، کېدای شي په یوه ټولنه کې مدرسه او جومات شتون ونه لري، خو هرو مرو کورنۍ وجود لري او د افرادو ډېر وخت په کور کې تېرېږي، نو په دې اساس هر څوک باید په کور کې د روزنې لپاره یو پروګرام ولري.**

**له کومې ورځې، چې قرآن عظیم الشان نازل شوی، ګورو چې اسلام کور او کورنۍ ته یوه خاصه پاملرنه لري او ډېرې شرعي مسئلې په کور پورې اړه لري. د چا کورته بې اجازې ننوتل، دومره مهمه مسئله ده، چې الله (ج) په قرآن کریم کې ترې یادونه کړې ده:**

**ژباړه: ای مومنانو هغو کورونو ته مه ننوځئ، کوم چې تاسو پورې اړه نه لري، مګر اوسېدونکوته یې په سلام اچولو او له هغوی څخه د اجازه غوښتلو وروسته . [النور ۲۷] یانې دا فرض او اړینه ده، که چېرې یو څوک د چا کره ننوځي، باید اجازه واخلي او که اجازه یې ور نه کړه، نو باید بېرته را وګرځي.**

**یو بل حکم، چې په کور پورې تړاو لري؛ هغه داده چې د چا د کور دننه ته ور کتل حرام دي. په یوه روایت کې راغلي دي: یوه ورځ حضرت نبي کریم (ص) په کور دننه په خپله کوټه کې تشریف درلوده او ورسره یوه ږمنځ وه، چې خپل وېښتان یې پرې ږمنځول. یوه کس د کور له سوري څخه حضرت نبي کریم (ص) ته ور وکتل.**

**رسول الله (ص) غوسه شو او وې فرمایل: (لو علمت انک تنظرو لضربت بها عینک). حتا که دروازه پرانیستې وي یا سوری وي او یا هم ستاسو کور په لوړ ځای کې وي، نو بیا هم د نورو کورته دننه ور کتل حرام دي، ځکه چې کور کرامت لري.**

**یو بل حق، چې له کور سره تړاو لري دادی، چې رسول الله (ص) به مؤمنانو ته امر کاوه، چې نفلي لمونځونه په کور کې ادا کړي [اجعلوا من صلاتکم فی بیوتکم و لا تتخذوها قبورا (ای کالقبور) ] او په یوه بل روایت کې راغلي: (افضل صلاه الرجل فی بیته إلا المکتوبه) په دې اساس مستحب ده، چې نفلي لمونځونه په کورکې ادا شي، چې په سببونو یې په لاندې توګه رڼا اچول کېږي :**

**۱ــ که چېرې نفل لمونځ په کور کې ادا شي، نو له ریا (ځان ښودنې) څخه به خوندي وي.**

**۲ ــ د کورنۍ غړي، چې تا ویني، نو د نفلي لمونځونو ادا کولو ته هڅول کېږي.**

**۳ــ د الله (ج) په ذکر او د لمانځه په ادا کولو سره شیطانان دې له کوره تښتي.**

**که چېرې په کوم کور کې لمونځ وي، نو جومات سره ورته والی پیدا کوي او که په کوم کورکې لمونځ نه وي، نو هغه کور د هدیرې په څېر وي، مګر که په هغو کورونو کې، چې فساد وي، مبتذل فلمونه وکتل شي او له مبتذلو چینلونو څخه ګټه واخیستل شي، پردي کسان ورته تګ راتګ ولري، دا ډول کور هدیره نه، بلکې نوم یې فاحشه خانه، شراب خانه او قمار خانه دی، ځکه چې په هدیره کې دا ډول کړنې شتون نه لري.**

**اسلام کور ته دا کرامت او مقام ورکړی، چې په هغه کې لمونځ ادا شي؛ په جومات او مدرسې بدل شي او د روزنې زانګوي وي، په دې اساس باید په خپلو کورونو کې د دعوت (بلنې) چارې پیل کړو. که چېرې په رښتیني ډول خلک دې مسئلې ته پام وکړي، نو یو حیرانوونکی بدلون به رامنځته شي.**

**هېڅوک له خپله کوره بهر دومره اغېزمن نه دی، لکه څنګه چې په خپل کور کې اغېز لري. که چېرې یو له خپلو زامنو څخه د خدای (ج) په خاطر د دیني زده کړو لپاره ولېږئ، نو په کورنۍ کې به ډېر اغېز ولري، له ستونزو او انحرافاتو څخه به یې خوندي کړي.**

**الحمد لله په اوسنیو شرایطو کې له اسلامي ویښتابه څخه برخمن یو، چې دا ډېر د خوشالۍ ځای دی، ورځ تر بلې ځوانان ویښېږي او خپل رښتیني دښمنان پېژني او اسلامي غیرت یې په بدن کې ژوندی کېږي، حتا ځینو لوېدیځو مرکزونو خبر پاڼې خپرې کړي او له دې ویښتابه څخه یې اندېښنه څرګنده کړې ده او اروپا په ډېر چټک ډول د اسلام منلو په لوري ګامونه پورته کوي.**

**مور څنګه کولای شو، چې خپلې سترې موخې ته ورسېږو؟ هغه موخه چې په ټوله نړۍ کې د اسلام خپرېدل دي. لومړی ګام څه دی؟**

**لومړی ګام، پیل له خپله کوره دی .**

**له بده مرغه ځینې ځوانان وینو، چې هیله لري؛ نړۍ ته بدلون ورکړي، مګر د خپل کور په بدلولو کې پاتې راغلي دي. هغه څوک چې دا کوچنی امانت ونه شي زغملی، نو څنګه کولای شي، چې ستر امانت په خپلو اوږو بار کړي؟ صحابه و پیل له خپله کوره کړی ؤ او تاریخ د دې شاهدي ورکوي، چې د اسلام مبارک دین ترټولو ستر حامیان صحابیان، زامن یې او د هغوی کورنۍ وي.**

**په دې برخه کې بل ګام په خپلې کورنۍ باندې پام دی، باید کورنۍ تر نظر لاندې ولرئ او د تېروتنې پرمهال هغې ته پام وکړئ.**

**یوه ورځ حضرت رسول الله (ص) د حضرت علي (رض) کور ته ورغی، حضرت علي (رض) یې پیدا نه کړ او حضرت فاطمه (رض) ته یې وویل: د تره زوی دې چېرې دی؟ فاطمې (رض) وویل: زما او د هغه ترمنځ لږ خوابدی را منځته شو، هغه خواشینی شو او له کوره ووت. د ماسپښین د خوب وخت ؤ، چې حضرت رسول الله (ص) د حضرت علي (رض) په لټه له کوره ووت، تر دې چې هغه یې په جومات کې وموند، په څنګ ویده ؤ، لنډه دا چې حضرت نبي کریم (ص) بې تفاوته نه ؤ په خپلو مېرمنو او لورګانو یې پام درلوده او له هغوی څخه به یې پوښتنې کولې او همدا راز یې نورو ته امر کاوه، چې د خپل لاس لاندې کسانو څخه پوښتنه وکړي او د هغوی تګ راتګ ته پام وکړي.**

**له دې کبله باید په کور کې د زده کړې او دعوت چارې پیل شي. رسول الله (ص) د ښځینه و د زده کړو لپاره، یوه ورځ ټاکلې وه. اما بخاري (رح) په دې حدیث یو باب اېښی دی: (باب من جعل للنسا یوما علی حده).**

**په کور کې باید د خبرو اترو یوه غونډه جوړه شي، هغه څه چې د جمعې په ورځ د خطیبانو له خولې اورئ، نو د کورنۍ غړو ته یې ور ولېږدوئ، ترڅو د کورنۍ غړي په ډېرو څیزونو پوه شي، په هر حال مور د دې مسؤولیت لرو، چې خپله کورنۍ له خدای (ج) څخه وډاره کړو او باید هڅه وکړو، ترڅو په کورنۍ کې یو ځوان اغېزمن وي، کله چې د کورنۍ په ټولو چارو کې ځان ښکېل وګڼي او خدمت وکړي؛ نو په پایله کې اوربدونکي هم پیدا کوي.**


د مطلب پاتې په دویم مخ کې


## همو طنان عزیز!

**اهمیت و جایگاه علم و دانش در اسلام : چون خداوند متعال و آموزه های اسلامی، مسلمین و مومنین را اعم از زن و مرد به فراگیری علم و دانش امر فرموده است، چنانچه در اولین آیه شریفه نازل شده پیامبر بزرگوار اسلام (ص) مخاطب قرار میگیرد که بخوان.**

**پس بیایید با در نظر داشت اهمیت تعلیم و تعلم و فراگرفتن این نعمت بزرگ الهی با فرا رسیدن سال تعلیمی ۱۴۰۰ خورشیدی تمامی اطفال (پسر و دختر) که واجد شرایط اند جهت فراگیری علوم عصری و دینی شامل مکاتب و مدارس دینی نمائیم.**

## د رحمتونو ، مغفرتونو او ثوابونو میاشت دې ټولو مسلمانانو ته مبارک وي!

## په لوګر ولایت کې له ۹۰ جګړه ځپلو کورنیو سره مرسته وشوه



د وري ۱۰ مه: دغه مرسته د افغاني سرې میاشتې ټولنې لخوا وشوه، یاده مرسته له ۹۰ جګړه ځپلو کورنۍ چې د لوګر ولایت له بېلابېلو ولسوالیو څخه د جګړو له امله بې ځایه شوې دي، دلوګر د سرې میاشتې ټولنې لخوا له سروې وروسته مرسته وکړه.

په یاده مرسته کې (۷) قلمه خوراکي مواد شامل دي، چې هرې کورنۍ ته ۲۴ کیلو وریځې، ۱۰ لیتره غوړي، ۷ کیلو لوبیا ، ۵ کیلو بوره، ۱کیلو چای، ۲ کیلو مالګه او یو قوطی( BP-5 بیسکیټ) ورکړل شول.

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت لخوا د عامه پوهاوي غونډه جوړه شوه



**د وري ۱۸مه : هغه راټولېدنه، چې په همدې موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو په آمریت کې پر لار اچول شوې وه، پکې لوګر والي عبدالقیوم رحیمي، ولایتي شورا مرستیال قسیم خوشیوال، منشي عدالت عبدالرحیمزي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو مشر هجرت الله طوفان، د دوهمي واحدونو مسوولینو، قومي مشرانو، ځوانانو او مېرمنو برخه اخیستې وه. د غونډې په پیل کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو مسوول هجرت الله طوفان ګډون والو ته د ښه راغلاست تر څنګ په دغه ولایت کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پر روان بهیر او د فعالو برخو په اړوند معلومات وړاندې کړل . هغه وړاندې د تخنیکي مسلکي زده کړو په برخه کې د ترسره شوو چارو په تړاو هم رڼا واچوله . طوفان وړاندې د خپلې ادارې د پرمختګ او یو شمېر لیسو ته د ځمکو چمتو کولو په اړوند ولایتي ادارې ته وړاندیزونه او غوښتنې وړاندې کړې . دغه راز د ولایتي شورا مرستیال قسیم خوشیوال، اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، پوهنې رییس او یو شمېر نورو مسوولینو هم خبرې وکړې او د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ارزښت وغږېدل.لوګر والي عبدالقیوم رحیمي یادې غونډې ته وینا وکړه وې ویل؛ هڅه کوو، چې د ټولو برخو تر څنګ د لوګر اقتصادي برخې ته وده ورکړو او له دغې برخې نه یاد ولایت غني شي .**


پاتې په دویم مخ کې